# د افغانستان اسلامی امـــارت
# د کانونو او پټرولیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۴۹

نیټه: ۱۰/لیندۍ/۱۴۰۱

# په کابل کې د ایران له سفیر سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، د پلان او پالیسی مرستیال شیخ ضیاء الرحمن الاریوبي او مالي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین صابري په افغانستان کې د ایران له سفیر ښاغلي بهادر امینیان سره د سه شنبې په ورځ د ۱۴۰۱/۸/۲۴ نېټه ولیدل.

د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ یې افغانستان او ایران د دیني او کلتوري مشترکاتو، ښو او اوږدمهاله اړیکو له پلوه ښه ګاونډي او دوستانه هیوادونه وبلل او زیاته یې کړه: چې افغانستان د مس، اوسپنې، سره زرو، سرپ و جست، نفت او ګازو په څېر زیاتې طبعي زېرمې لري. دا چې په افغانستان کې پوره امنیت رامنځته شوی، ایراني پانګوال، چې کوم علمي او تخنیکي ظرفیتونه لري کولی شي د هیواد د کانونو په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

په افغانستان کې د ایران سفیر ښاغلي بهادر امینیان هم د افغانستان د کانونو او پټرولیم له سرپرست وزیر سره د ایران د اسلامي جمهوریت د همکاریو په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: چې د ایران لوی شرکتونه د افغانستان د کانونو په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته لېواله دي او له یاد وزارت سره د کان کیندنې په برخه کې هر ډول مرستې او همکارۍ ته چمتو دي.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د چین MCC شرکت اجرائیوي مرستیال سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه



د 1401/8/29 نېټه د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) د مس عینک پروژې د MCC قراردادي شرکت اجرائیوي مرستیال ښاغلي اوو مین سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) د MCC شرکت اجرائیوي مرستیال ښاغلي اوو من سره د لیدني پر مهال د مس عینک پروژې د مختلفو برخو د لروغونو اثارو د انتقال، د شته ننګونو د حل او قراردادونو په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: چې د MCC شرکت باید د قرارداد له مخې خپل ټول مسوولیتونه او مکلفیتونه تر سره کړي. همدا راز شیخ صاحب د یادې پروژې د عملي کار د پیل په اړه ټینګار وکړ.

د MCC شرکت اجرائیوي مرستیال ښاغلي اوو من هم د پروژې د کار د پیل په برخه کې د دوی له هلو ځلو مننه وکړه او زیاته یې کړه: چې د عینک له سیمې څخه د لروغونو اثارو تر بشپړ انتقال وروسته به په عملي توګه خپلې ساختماني چارې پیل کړو.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د مس عینک له کان څخه د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي لیدنه



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د اقتصادي کمیسیون رئیس ملا عبدالغني (برادر)، د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، د صنعت او تجارت وزارت سرپرست بدرالدین (عزیزي)، د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد (حنیف)، د مخابراتو وزارت سرپرست مولوي نجیب الله (حقاني)، د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري عمومي ریاست رئیس شیخ الحدیث نورالحق (انور) او د کانونو او پټرولیم وزارت د پلان او پالیسی مرستیال شیخ ضیاءالرحمن (الاریوبي)، مالي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین (صابري) د جمعې په ورځ د 1401/9/4 نېټه د لوګر ولایت مس عینک له کان څخه لېدنه وکړه.

په دغه لېدنه کې دوی د مس عینک د کان له بېلابېلو سیمو او له تاریخي اثارو څخه لیدنه وکړه. او د مس عینک کان د عملي کار د پیل په اړه یې د چینایي شرکت له پلاوي سره خبرې وکړې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د اقتصادي کمیسیون رئیس وویل: چې د مس عینک کان استخراج لپاره باید لا زیات کار وشي او د کان د استخراج په بهیر کې له لرغونو اثارو څخه ساتنه وشي تر څو تاریخي اثارو ته زیان ونه رسیږي.

ورپسې بیا د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وویل: اوسني وضعیت د مس عینک پروژې پر پیل او پر کانونو د پانګونې لپاهر بهترین فرصت دی، او پر کانونو پانګونه به ګران هیواد له اقتصادي بحران څخه وژغوري او د اقتصادي ودې او پرمختګ لامل به شي.

# په کابل کې د ایران له سفیر سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، د پلان او پالیسی مرستیال شیخ ضیاء الرحمن الاریوبي او مالي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین صابري په افغانستان کې د ایران له سفیر ښاغلي بهادر امینیان سره د سه شنبې په ورځ د ۱۴۰۱/۸/۲۴ نېټه ولیدل.

د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ یې افغانستان او ایران د دیني او کلتوري مشترکاتو، ښو او اوږدمهاله اړیکو له پلوه ښه ګاونډي او دوستانه هیوادونه وبلل او زیاته یې کړه: چې افغانستان د مس، اوسپنې، سره زرو، سرب و جست، نفت او ګازو په څېر زیاتې طبعي زېرمې لري. دا چې په افغانستان کې پوره امنیت رامنځته شوی، ایراني پانګوال، چې کوم علمي او تخنیکي ظرفیتونه لري کولی شي د هیواد د کانونو په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

په افغانستان کې د ایران سفیر ښاغلي بهادر امینیان هم د افغانستان د کانونو او پټرولیم له سرپرست وزیر سره د ایران د اسلامي جمهوریت د همکاریو په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: چې د ایران لوی شرکتونه د افغانستان د کانونو په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته لېواله دي او له یاد وزارت سره د کان کېندنې په برخه کې هر ډول مرستې او همکارۍ ته چمتو دي.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د ایران له پانګوالو سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) د تخنیکي او جیولوجي سروې مرستیالانو په شتون کې د ایران هیواد د پارسیان شرکت پانګوال اجرائیه مدیر دکتور محمد مسعود سمیعي نژاد او د احیا سپاهان صنایع او کانونو شرکت د مدیره هیئات رئیس دکتور علي یوسف پور او مل پلاوي سره یکشنبه 1401/9/6 نېټه په خپل کاري دفتر کې سره ولیدل.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ یې د افغانستان، ایران او نورو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو د پراختیا په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: چې په ټول افغانستان کې پوره امنیت راغلی له ټولو په خانګړې توګه، زموږ د ګاونډیو هیوادونو د پانګوالو څخه د افغانستان په کانونو کې د پانګونې لپاره هر کلی کوم.

د احیا سپاهان صنایع او کانونو شرکت مدیره هیئت رئیس د وزارت له مشرتابه څخه دوی ته د وخت ورکولو او لیدلو لپاره مننه وکړه او زیاته یې کړه؛ چې دواړه هیوادونه له کلونو راهیسې دوستانه، کلتوري، او تاریخي اړیکي لري او له یو بل سره یې هر وخت زیاتې مرستې کړي. همدار راز یې د افغانستان په کانونو کې د پانګونې په اړه هم خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې د باختر فولاد شرکت چې موږ له یو چتر لاندې کار کوو، ښه تخنیکي او مالي تجربه لرونکی یو، موږ غواړو د افغانستان په کانونو کې پانګونه وکړو.


د امتیاز خاوند: د کانونو او پټرولیم وزارت

مسوول مدیر: محمد فرهاد (عبیدی)

ترتیب او تنظیم : استاد نجیب الله (رحیمي)

طرح او دیزاین: محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)



ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان د اړیکو شمیره: +93202304455 الکترونیکي پته: www.momp.gov.af

ایمیل ادرس: PR@momp.govaf